د ۲۰۱۴ ډسمبر ۳۱ مه دې د جګړو د پای ورځ او نوی کال دې د پایدارې سولې او پرمختګ پیلامه شي!

تېل شوې جګړې د انسانیت د ارزښتونو خلاف او د افغانستان په کډون د ګڼ شمیر ګاونډیو او د نړی د هیوادونو معصوم بچي یې وژلي، د عزت خلک یې بې عزته کړي او د پراخو ورانیو او مهاجرتونو سبب ګرځیدلي دي!

مطبوعاتي اعلامیه:
د بیرني خپراوي لپاره
ډسمبر ۳۱، ۲۰۱۴
۱۰ مرغومی (جدي)،۱۳۹۳
کابل، افغانستان

د نړی تاریخ ښودلي چي بې مفهومه تېل شوې جګړې د انسانیت د ارزښتونو خلاف او هیڅکله هم د ملتونو او ولسونو د پرمختګونو یا ګټو د خوندیتابه لپاره ښه انتخاب نه و. د تاریخ د مختلفو دورو په بهیر کې د جګړو له امله ګڼ شمیر هیوادونه او ښارونه وران شوي او د ملیونونو انسانانو ژوند او عزت یې اخیستی دی. د همدې جګړو په درشل کې ملتونه د مادي او معنوي زیانونو په زغملو له راز راز کړاوونو سره مخ شوي دي، او آخر یې هم ستونزې په جګړو نه، بلکه د تفاهم او ډپلوماسی له لارې حل شوي دي.

پر افغانستان د تیرو نیږدې څلور لسیزو تېل شوې جګړې د ستر بشري ناورین سبب ګرځیدلي، چي له امله یې د دغې هیواد ټولې زیربناوې په بشپړه توګه له منځه تللې، ملیونونه بې ګناه وګړي شهیدان، ملیونونه معیوب، معلول، یتیم او ملیونونه میندې بورې او خویندې کونډې شوي دي، او لسګونه ملیونه افغانان هم د نړی هیوادونو ته مهاجرت ته اړ شوي دي.

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن د نړی د ثبات، سراسري امن او پرمختګ لپاره افغان ولس او نړیوالو ته د یوې پراخبنسټه طرحې په ملتیا په لاندې ډول وړاندیزونه مطرح کوي:

۱. د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن پر ملګریو ملتونو، اسلامي کنفرانس، د امریکې پر متحدو ایالاتو، ناټو، افغان دولت، د دولت پر مخالفینو او د سیمې او نړی پر نورو هیوادونو غږ کوي چي د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر ۳۱مه دې د شخړو او جګړو د پای او د ۲۰۱۵کال لومړی ورځ دې په افغانستان او نړی کې د پایدارې سولې، مینې او وروړګلوی، د انسانانو ژوند او انساني ارزښتونو ته د درناوي د پیلامې ورځ اعلان کړي.

۲. د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن د نړی اوسني کړکیچن وضعیت ته په کتو پر افغانستان د تیرو تېل شویو جګړو شالید (پس منظر) له دقیقې مطالعې تر څنګ، له روانو شخړو او جګړو څخه د وتلو د عملي حل لار وړاندې کوي او د سولې لپاره د یو نړیوال ائتلاف په توګه (د سولې د نړیوال کمیسیون) د ایجاد، او د پایدار امن او پرمختګ پر لور د یوې پراخې، منظمې او سیستماتیکې ترقیاتي، پراختیایي او پرمختیایي طرحې وړاندیز کوي چي مسوده یې په درې جلا جلا برخو کې له دغې اعلامیې سره مل ده.

۳. فدرېشن د یادې طرحې د څیړنو په لړ کې دا ثابته کړې چي له وارسا او شوروي اتحاده بیا تر ناټو او متحدو ایالتونو تېل شوې جګړې د نړی د هیوادونو او آن د وخت د ابرقدرتونو د جدي زیان سبب ګرځیدلي، چي د حل لار یواځې پراخبنسټه سوله ده او د افغانستان او سیمې ترقي او سوله ایزه مدني ډپلوماسي او د ملتونو تر منځ دوستانه سیاسي، علمي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزې اړیکې د پایدار امن او پرمختګونو ضامن دي.

۴. د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن په رسمي توګه یاده طرحه په افغانستان کې د ملګرېو ملتونو د ځانګړي استازي له دفتر، د افغانستان لپاره د اسلامي همکاریو د سازمان له دایمي استازي او سفیر، افغان ولسمشر، د طالبانو اسلامي‌تحریک او حزب اسلامي افغانستان سره شریکه کړې، او پروګرام لري چې د جنوری له لومړۍ نیټې یې د مدني ډپلوماسۍ د لا پراخو پروګرامونو له لارې د امریکې متحدو ایالتونو او ناټو له استازو او د سیمې او نړۍ له نورو ښکیلو او همکارو هیوادونو له استازو او اړوندو مراجعو سره هم شریکه کړي، څو د یو منظم او پراخ پروګرام له لارې د سولې، امن او پرمختګ عملي لارې چارې برابرې کړای شي او په ګډه دغه نړۍ د ټولو انسانانو لپاره د سولې او امن پر کور بدله کړای شو.

۵. فدرېشن ټینګ باور لري چې د پایدار امن او پرمختګ دغه طرحه به د نړۍ د ټولو مستضعفو ولسونو د خلاصون، د دردونو د درمل، او اورونو د وژنې او د افغانستان او نړۍ د هیوادونو د پرمختګونو او ګډو ګټو د خوندیتابه په لړ کې د سوله ییزې مدني ډپلوماسۍ او تفاهم له لارې د ملتونو تر منځ د ورورګلوۍ د فضا په رامنځته کولو کې د پراخو او عملي همکاریو امکانات چمتو کړي.

۶. فدرېشن هیله لري چې د افغان دولت او نړېواله ټولنه، مدني سازمانونه، رسنۍ، علمي او فرهنګي بنسټونه او عام وګړي به د یادې طرحې د لا غښتلي کولو، خپراوي او عملي کولو په لړ کې خپلې هر اړخیزې مادي او معنوي مرستې او همکارۍ و نه سپموي، او د ښو پایلو پر لور به د منظمو او سیستماتیکو همکاریو لارې چارې برابرې کړي.

سوکاله او سرلوړی دې وي افغانستان!
امن دې وي پر ټوله نړۍ!
ډېر درنښت،

صدیق منصور انصاري،
عمومي رییس، د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن (FACS)
کابل، افغانستان
0093788161853، facs.kabul@gmail.com

د افغانستان د مدني ټولنو فدرېشن (FACS)، د مدني ټولنې د نهادونو ( نادولتي موسساتو، شوراګانو او ټولنیزو او فرهنګي سازمانونو) او ټولنیزو، علمي، فرهنګي او مدني فعالینو هغه سراسري اتحاد دی چې د هغوی په خپلو منځو او صادقانه همکاریو او سخاوتمندانه امکاناتو رامنځته شوی او تر اوسه یې د هیڅ دولتي یا غیر دولتي ارګان مرستو یا اشارو ته لبیک نه دی ویلی او په خلاص مټ د ملي اسلامي ارزښتونو په رڼا کې د هیواد د روان کړکیچ، اداري فساد، جنګ جګړې او ورور وژنې د مخنیوي او په هیواد کې د با ثباته، شفاف او د خلکو د ارادو د رښتیني ممثل نظام، ټولنیز عدالت او قانون حاکمیت د ټینګښت، ښې حکومتدارۍ، د هیواد د ملي ارزښتونو او ارضي تمامیت، د اسلام په رڼا کې د بشري حقوقو د دفاع او تأمین او د هیواد د متوازن انکشاف او پرمختګ او هم په دې لړ کې پر دولتي او نادولتي ملي او نړېوالو ادارو د نظارت او څار په موخه د پراخې متحدې مدني مبارزې لپاره د یو ممثل نهاد په توګه جوړ شوی دی.
فدرېشن له ټولې اسلامي او غیر اسلامي نړۍ سره د متقابل احترام او دوه اړخیزو ملي ګټو په رڼا کې اړیکې د وخت د سیاسي او مدني ډپلوماسۍ ضرورت او د راتلونکیو پرمختګونو، صمیمیت او پایدار امن ضامن بولي.